بسم الله الرحمن الرحيم

**يوازې خلافت کولی شي، چې ميندې د پانګوالۍ له هغو وحشتونو وژغوري، چې د کرونا وبا په ترڅ کې افشا شول.**



په غربي نړۍ کې کارکونکې ميندې د کرونا وبا له امله د رامنځ ته شويو ستونزو له امله د مرستې فريادونه کوي، خو دا چې غرب د اسلام پروړاندې تعصب لري او تل يې د اسلام پرضد تبليغات کړي، زياتره ښځې په دې نه پوهيږي، چې د اوسنيو ستونزو د حل لپاره د پانګوال نظام بديل، اسلامي خلافت دی، خلافت د حکومتوالۍ هغه نظام دی چې کولای شي ښځې د پانګوالۍ له ظلم څخه خلاصې کړي.

د ښوونځيو او ماشومانو د پاملرنې مرکزنونو (وړکتونونو) بندولو له امله، دنده لرونکې ميندې اړ شوې چې شاقه کارونه وکړي او په پايله کې يې له سختو ستونزو سره مخ شوي او له همدې امله ځوريږي. په ۲۰۲۲ کال کې د اتلانيتيک ورځپاڼې په يوه مقاله کې په ښکاره ډول د کارکوونکو ميندو ناوړه حالت په ګوته کړی، او له دغه ميندو څخه ليکوال يو لړ پوښتنې کړي او دغو منيدو ځواب ورکړ، چې موږ څنګه خپل ماشومان ښوونځي ته واستوو، کله چې د کرونا وبا لپاره هېڅ ازموينه نه اخيتسل کيږي او ډېری زده کوونکي او ښوونکي ناروغان دي؟ موږ څنګه ښه مور او پلار کېدای شو، چې موږ خپل ماشومان د ښوونځي پرځای په کورونو کې وساتو او په ورته وخت کې له موږ څخه تمه کېږي، چې خپلو دندو ته هم حاضر شو؟ موږ څنګه کولای شو ښه والدين و اوسو، داسې چې تمه راڅخه کېږي، موږ بايد هم ښوونکي، نرسان، د لوبې ملګري، اشپزان، ډاکټران، مېرمنې او خاوند و اوسو؟ والدين

د کرونا له ویروس څخه د مخه له کړواوونو سره مخ و. اوس چې موږ د کرونا وبا یوې مرحلې ته رسېدلي یو، موږ نه شو کولای داسې کلیمې پیدا کړو چې د خپل ژوند ناوړه حالت بیان کړو. موږ ماتې خوړلې او هېڅ نه لرو، یوازې له لوږې او خپلو دردونو فریادونه کوو.

د کارکوونکو میندو لپاره د پانګوالي خطرونه ډېرو خلکو ته څرګند دي په ځانګړې توګه د هغو میندو لپاره چې د قرنطین جریان کې په خپلو کورونو کې منزوي دي. په ورته وخت کې  د سټرېا، ذهني فشار، سخت کار، به کور دننه د ماشومان زده کړو او د هغوی د پاملرنې لپاره یې خپل ټول وخت ورکړی و. د مکنزي یوې سروې مونډلې، چې د هغو میندو د هوساینې کچه چې له خپلو کورونو بهر په دفتر کې کار کوي، د هغوی د خاوندانو په پرتله خورا ټیټه ښودل شوې ده او  پایله یې دا ده، چې ٪۵۹ مېرمنې او٪۲۹ نارینه د زیات کاري فشار له امله له ستونزو سره مخ شوي.

 په پایله کې میندې مجبوره دي چې یا په کور کار وکړي او یا خپلې دندې ته لاړې شي، خو د ډېرو میندو لپاره د کور کار لومړنی انتخاب دی. د پانګوالې نظام مشران سوداګر اندېښمن دي، چې د کرونا وبا له امله د ښځینه کارکونکو برخه له منځه تللې ده، په داسې حال کې چې ښوونځي هم بند دي. له همدې امله دا د حیرانتیا خبره نه ده، سره له دې چې د اومیکراون ساري وایروس خپور دی، معاشونه هم نه ورکوي، حکومتونه د نړۍ به ګوټ کوټ کې د ښوونځیو پر پرانیستلو ټینګار کوي، ترڅو هغه میندې چې دندې لري خپلو دندو ته بېرته ستنې شي. اوس په پانګوالو ټولنو کې له ښوونځیو څخه د ګودامونو په څېر ګټه اخیستل کېږي، چې میندې خپل ماشومان هلته ساتي ترڅو دوی خپلې دندې ته لاړې شي. په دې توګه د ماشومانو روغتیا هم د پانګوالۍ د اقتصادي نظام قرباني کېږي او دوي د ښوونځیو په یوه ناامنه چاپېریال کې ساتل کېږي. د مثال په توګه په اسټرالیا کې چې د کرونا وبا د قضیو شمېر د امریکا او انګلستان په پرتله ډېردی، د آسټرالیا لومړي وزیر سکاټ موریسن وویل موږ غواړو چې ماشومان بیرته خپلو ښوونځیو ته راشي ، ځکه چې دا په کاري ځواک ډېره اغیزه لري.

د پانګوالۍ پر خلاف اسلام د میندو ساتنه او د هغوی د حقونو درناوی کوي، لکه څرنګه چې د حزب التحریر د اساسي قانون په ۱۱۲ ماده کې ذکر شوي: «د مېرمنو لومړنۍ دنده په کورنۍ کې د خپلو اولاونو استادي ده.» د دې لپاره چې ټولنې ته قدرمن شخصیتونه ورزوي، نو باید ساتنه او عزت یې وشي، د دې ترڅنګ د خلافت د اساسي قانون په ۱۱۹ ماده کې راغلي: «د هر نارینه او ښځینه لپاره جواز نه لري چې په ټولنه د اخلاقي فساد لامل شي.»

عبدالله ابن عباس رضی الله عنه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابي او ستر عالم دی، یو ځل وویل: «زه له مور سره له مهربانۍ او احترام پرته بل داسې عمل نه وینم چې خلک الله سبحانه وتعالې ته نږدې کړي.» سربېره پردې په اخرت کې د مور او پلار لپاره ډېر ثوابونه دي. رسول الله صلی الله علیه وسلام فرمایلي دي:

**«إِنَّ لِلْمَرْأَةِ فِي حَمْلِهَا إِلَى وَضْعِهَا إِلَى فِصَالِهَا مِنْ الْأَجْرِ كَمَا لِلْمُرَابِطِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَإِنْ هَلَكَتْ فِيمَا بَيْنَ ذَلِكَ فَلَهَا أَجْرُ شَهِيدٍ»**

***ژباړه:*** *«د یوې ښځې اجر د حمل له وخت څخه تر ولادت او شېدو ورکولو پورې، هغه کس ته ورته دی چې د الله سبحانه وتعالې په لار کې شهید شوی وي، که چېرته کومه ښځه په دې موده کې د سختیو او ژېړون د دردونو له امله له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړي، نو هغې ته به د شهید اجر ورکول کیږي.»*

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**{أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ}**[الملک:۱۴]

ژباړه: *ایا هغه دې، د زړونو په حال ونه پوهېږي، چې پیداکړي یې دي؟ په داسې حال کې چې هغه د هر څه لیدونکی او د زړونو په پټو رازونو پوهېدونکی دی.*

ښځه په اصل کې مور او مېرمن ده او د اسلامي شریعت او سپارښتنو مطابق باید له خپل خاوند سره اړیکه ولري. اسلام د ښځې او نارینه لپاره ځانګړې قوانین لري د ښځو او نارینه وو تر منځ، چې په ځینو حقونو او دندو کې یې توپیر شوی او هغه د فطرت او انساني مزاج غوښتنه ده. الله تعالی نارینه فطرتاً ځواکمن او ښځه کمزورې پیدا کړې ده او د دغې جسماني توپیر له وجې پر هغوی ترحم کړی، سخت او درانه کارونه یې نارینه وو او نسبتا هوسا کارونه یې ښځو ته سپارلي دي. دا یې په کورنۍ کې د خپلو اولادونو استاده ګرځولې، تر څو ټولنې ته قدرمن شخصیتونه ورزوي. همدا وجه ده چې اسلام د دوی تر منځ په ځینو حقونو او دندو کې توپیر په پام کې نیولی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث کې د ښځې او سړي د دندو په اړه فرمایلي دي:

**«كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ الْإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا...»** (رواه: صحیح بخاري)

*ژباړه: ستاسي هر یو سرپرست او څارونکی دی او ستاسې له هر یوه څخه د هغو کسانو په هکله پوښتنه کیږي چې ستاسي تر سرپرستی او څارنی لاندي دي. واکمن د هغو کسانو څارونکی دی، چې د ده تر واک لاندې دي، له هغه څخه د هغو په هکله پوښتنه کیږي. خاوند د خپلې کورنی څارونکی دی، له هغه څخه د هغه د کورنی د غړو په هکله پوښتنه کیږي. ښځه د خپل خاوند د کور او کوچنیانو څارونکې ده، له هغې څخه د هغې د کور او کوچنیانو په هکله پوښتنه کیږي.*

د ښځو او نارینه وو د کار په اړه د دودیزو قوانینو د اسلامي درک په ځانګړي ډول د ۲۰۱۷-۲۰۲۰ کلونو د نړیوالو ارزښتونو د سروې ۷مه څپه کې منعکس شوي . کله چې له خلکو څخه د دندو په اړه پوښتل شوي وو چې ایا د کورنیو د اړتیاوو پوره کول یا کار کول د نارینه مسوولیت دی، که د ښځینه وو یعنې د اولاد د نفقې پیداکول. په مصر کې (٪۹۰) اردون (٪۸۲)، عراق (٪۷۸) او ایران (٪٦۹) کې مسلمانانو ځواب ورکړی و چې د اولاد د نفقې پیدا کول مسوولیت دنارینه وو دی. په داسې حال کې چې په غرب کې د پانګوالۍ فضا حاکمه ده، ډېرو کمو خلکو ځواب ورکړی وو، چې د دې دندې ترسره کول د خاوند مسوولیت دی مثال : په ناروې کې (٪۴) هالنډ (٪۵) آلمان (٪٦) او استرالیا (٪۷) .

پانګوالي دا څرګند حقیقت په پام کې نه نیسي او په پایله کې پر ښځو فشار راوړي، چې کار وکړي، جوړجاړي وکړي او حتا د یوې مور په حیث خپل حقیقي رول یعنې د کور مېرمنتوب او د اولاد روزنه پرېږدي، چې په پایله کې یې هم میندو او هم ټولنې ته زیان رسېږي. سربېره پر دې پانګوالۍ په اسلامي ټولنو کې هم د مورتوب په اړه زموږ د سپڅلي اسلام دین لیدلوری تر پښولاندې کړی او د مسلمانو نجونو یوازینې موخه تر دندې پیدا کولو پورې محدودې شوي، چې په پایله کې یې د میندو او پلرونو هیلې د راتلونکو ماشومانو او ژوند په اړه د اندېښمنې وړ دي.

له همدې امله اسلامي شریعت ښځه د کور مېرمن (د کور د ژوند او د ماشومانو د پالنې مسوولیت لري) د ښځو او نارینه وو تر منځ چې په ځینو حقونو او دندو کې یې توپیر شوی، هغه د فطرت او انساني مزاج غوښتنه ده. الله تعالی نارینه فطرتاً قوي او ښځه کمزورې پیدا کړې ده او د دې جسماني توپیر له امله یې پرهغوی ترحم کړی، سخت او درانه کارونه یې نارینه وو او نسبتاً هوسا کارونه یې ښځو ته سپارلي دي. دا یې په کورنۍ کې د خپلو اولاونو استاده ګرځولې، تر څو ټولنې ته قدرمن شخصیتونه ورزوي. نه دا چې له هغې څخه د کاري ځواک په توګه وکارول شي یا د هغوی د روغتیا او هوساینې په قیمت شرکتونو او دولتونو ته شتمني پیدا کړي.

**لیکوال: تسوري ایمل یسنا**

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی**

**۱۴۴۳هـ.ق، د رجب ۱۹مه**

**۲۰۲۲م، د فبروري ۲۰مه**

**ژباړن: محمد هارون رؤفي**

#أقيموا_الخلافة

#ReturnTheKhilafa

#YenidenHilafet

# خلافت تاسیس کړئ